هفته‌نامه آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
شنبه، د شعبان المعظم ۲۸ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال
#۴۲
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

# سرلیکنه



د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر په مشرۍ د اسلامي امارت او خصوصي سکټور ګډ پلاوي د کب په ۱۱مه نېټه ترکمنستان ته سفر وکړ. په دې سفر کې د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر د ترکمنستان له چارواکو سره په لیدنو کتنو کې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو پر پراختیا ټینګار وکړ. نوموړي په افغانستان کې د پانګونې په برخه کې شته فرصتونو ته په پاملرنې سره وویل دمګړۍ په افغانستان کې د کانونو، صنعت، کرنې، سوداګرۍ، انرژۍ په برخو کې د پانګونې واقعي او عملي فرصتونو ته زمینه برابره شوې ده. د ترکمنستان له پانګوالو غواړو چې په افغانستان کې د خپلې خوښې وړ سکټورونو کې پانګونه وکړي. په دې برخه کې ترکمن لوري خپله لېوالتیا په ډاګه کړه. دغه راز د ترکمنستان په پلازمېنه عشق آباد کې د افغان – ترکمن تر نامه لاندې نړیوال نندارتون هم جوړ شوی و. په دې نندارتون کې څه باندې ۲۵۰ افغان سوداګرو خپل محصولات نندارې ته وړاندې کړل. موخه یې په یاد هېواد کې د افغاني توکو له پاره بازار موندنه وه.

د افغانستان او منځنۍ اسیا هېوادونو ترمنځ د اړیکو نوی باب به وکولای شي چې دواړه لوري اقتصادي او سوداګریز فرصتونه ترلاسه کړي. د منځنۍ اسیا هېوادونه چې د انرژۍ یعني تېلو او ګازو پرېمانه زېرمې لري، په مقابل کې یې سویلي آسیا بیا دې توکو ته ډېره اړتیا لري. که چېرې د انرژۍ د لېږد پروژې عملي شي، نو ګټه یې یوازې افغانستان نه بلکې د منځنۍ آسیا هېوادونو ته زیاته ده. د دې پروژو څخه کولای شو د ټاپي، ټاپ، ټوټاپ، کاسا زر پروژې یادې کړو چې کولای شي په پلي کېدو سره یې د منځنۍ اسیا هېوادونو له پاره سترې اقتصادي لاسته راوړنې ولري. دغه راز د رېل پټلۍ شبکو لکه افغان- ټرانس او داسې نورې پروژې به د ترانزیټ په برخه کې سویلي او مرکزي آسیا ته د منځنۍ آسیا هېوادونو د نورو صنعتي محصولاتو لکه سیخ ګول، اوسپنیز ګاډر، زراعتي او صنعتي تولیداتو لپاره د ترانزیټ لاره هواره کړي، چې دا ټول پر اقتصادي پرمختګ مثبته اغېزه کولای شي. افغانستان هم کولای شي له دې لارې خپله د اړتیا وړ انرژي ترلاسه کړي او دغه راز به په منځنۍ آسیا کې د خپلو کاني، کرنیزو او نورو صنعتي محصولاتو له پاره د مارکېټ موندلو ترڅنګ سمندر ته هم لاره پیدا کړي او سوداګري به یې نړیواله شي. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کوي چې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره خپل سیاسي او اقتصادي اړیکي لا پراخه کړي. په دې برخه کې د افغانستان له لوري په لوړه کچه د پلاویو سفرونه او باالمقابل د منځنۍ اسیا هېوادونو له لوري هم وخت پر وخت لوړو پوړو چارواکو افغانستان ته سفرونه کړي دي او ټول تمرکز یې پر دې دی، چې وکولای شي دواړه لوري خپلې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې پراخه کړي. په دې وروستیو کې د سوداګرۍ او صنعت د سرپرست وزیر په مشري د اسلامي امارت پلاوي ترکمنستان هېواد ته سفر د دې سفرونو ښه بېلګه ده. د دې سفر موخه د افغانستان او د یاد هېواد ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو پراختیا او په یاد هېواد کې د افغاني محصولاتو له پاره بازار موندنه وه. د افغانستان له پاره اوس ښه فرصت دی چې له خپل جغرافیایي موقعیت څخه اعظمي ګټه پورته کړي. افغانستان د آسیا د وصل په نقطه بدل کړي. د دې لویې وچې هېوادونو ګټې سره وتړي، په دې سره به افغانستان په اقتصادي لحاظ په پښنو ودرېږي او سوداګري به یې نړیواله شي. دا هغه برخې دي چې کولای شي افغانستان د پرمختګ په لور روان کړي.

## په ۱۴۰۲ لمریز کال کې د کانونو او ټرانسپورټ په برخه کې لسګونو زرو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې



۲ مه صفحه

## دستاورد های امارت اسلامی در سکتور برق



۳ مه صفحه

## د کابل او عشق‌اباد ترمنځ اقتصادي او سوداګریزو اړیکو ته کتنه



۴ مه صفحه


# معاون اقتصادی ریاست الوزراء با رئیس اجرائیوی پیشین دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد دیدار نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء با پینو آلارچی رئیس اجرائیوی پیشین دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد در دفتر کاری اش دیدار نمود. در این دیدار، هر دو طرف در مورد مبارزه با مواد مخدر از سوی امارت اسلامی در افغانستان و همکاری های مشترک افغانستان و جامعه جهانی در این زمینه بحث و تبادل نظر نمودند. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند گفت که امارت اسلامی در حدود دو نیم سال گذشته با کشت و قاچاق مواد مخدر در افغانستان مبارزه جدی کرده و در حال حاضر سطح تولید و قاچاق آن به صفر رسیده است. محترم ملا صاحب افزود که امارت اسلامی هزاران معتاد را جمع آوری کرده و تداوی این معتادان به طور بهتر انجام شده است. برای فراهم کردن زمینه کار، برنامه های آموزشی حرفوی برای آنها راه اندازی گردیده است. به گفته محترم ملا صاحب، با روی کار آمدن نظام مستقل و امنیت سرتاسری در افغانستان، زمینه خوبی برای ترویج کشت بدیل مواد مخدر به میان آمده است و سازمان های بین المللی می توانند در این زمینه با افغان ها همکاری نمایند. رئیس اجرائیوی پیشین دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد از مبارزه امارت اسلامی با مواد مخدر قدردانی نموده، گفت که جامعه جهانی مکلفیت دارند که در بخش مهیا ساختن کشت بدیل خشخاش برای دهاقین افغان با امارت اسلامی همکاری کند. پینو آلارچی افزود، آنها در نظر دارد تا در آینده نزدیک کنفرانس بین المللی را در کابل برگزار و از طریق این کنفرانس حمایت مالی بین المللی در بخش کشت بدیل خشخاش به دهاقین افغان را جلب کنند.


## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ؋۷۱,۰۰ | ؋۷۱,۱۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۴۴ | ؋۲۴۵ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۲۹ | ؋۱,۲۹ |
| ۱ | اروپايي يورو | ؋۷۷,۷۱ | ؋۷۷,۸۲ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰.۷۸ | ؋۰.۷۸ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ؋۸۵۸ | ؋۸۵۹ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ؋۹۱,۲۹ | ؋۹۱,۴۲ |
| ۱ | سعودي ريال | ؋۱۸,۹۳ | ؋۱۸,۹۶ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۳۳ | ؋۱۹,۳۶ |
| ۱ | چيني ين | ؋۹,۸۸ | ؋۹,۸۹ |



# په ۱۴۰۲ لمريز کال کې د کانونو او ترانسپورټ په برخه کې لسګونو زرو کسانو ته د کار زمينه برابره شوې



د کانونو په برخه کې د هرات ولايت د غوريانو ولسوالی د اوسپنې کان څلور بلاکونه، د غور ولايت د تولک ولسوالۍ د سرپو او جستو کان يو بلاک، د تخار ولايت د چاه آب ولسوالۍ د سمتي سرو زرو کان او د لوګر ولايت د دوهم مس عينک کان قراردادونه کورنيو او بهرنيو شرکتونو ته ورکړل شوي دي. د يادو ۷ قراردادونو د چارو ترسره کولو لپاره په مجموعي ډول ٦ ميلیارده او ۵۵۷ ميليونه ډالره پانګونه کېږي، چې زرګونو کسانو ته ورسره کاري زمينه برابريږي.

د آمو نفتي حوزې له ٦ نويو ځاګانو څخه هم د نفتو د استخراج چارې پيل شوې، د دې ځاه ګانو په کيندلو او فعالولو سره د ځاه ګانو شمېر ۲۴ ته ورسېد، چې په دې سره د استخراج ورځنۍ کچه ۱۳۵۰ ټنو ته لوړه شوه. د روان ميلادي کال تر پايه پورې به ۲۳ نورې ځاګانې هم فعالې شي، چې په دې سره به د فعالو ځاه ګانو شمېر ۴۷ ته لوړ شي او ورسره به د استخراج ورځنۍ کچه ۳۰۰۰ ټنو ته پورته شي. د آمو نفتي حوزه کې اوسمهال زرګونو هېوادوال په مستقيم او غير مستقيم ډول په کار بوخت دي.

همدارنګه د ترانسپورټ په سکتور کې هم عملاً د لويو لارو د بيارغونې کارونه پيل شوي لکه کابل – هرات، واخان دهلېز، بدخشان، پکتيا، لوګر، بادغيس، غور او

ځينو نورو ولايتونو سړکونه او د ولايتونو له مرکزونو څخه لرې پرتو ولسواليو ته د سړکونو غځول او د ريل پټلۍ له لارې د سيمې او ګاونډيو هېوادونو سره د هېواد نښلولو چارې هم په چټکۍ سره دوام لري. له دې پروژو څخه يوه د افغان – ترانس پروژه ده چې په پلي کېدو سره به يې د سويلي او منځنۍ اسيا پر وصل سربېره د چين او اروپا ترمنځ د ترانزيټ تر ټولو لنډ دهلېز رامنځته کېدو له پاره زمينه برابره شي.

له دې لارې به لسګونو زرو کسانو ته د کار زمينه برابره او د ترانسپورټ په برخه کې به د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو ترڅنګ ګڼې اسانتياوې هم رامنځته شي.

همدارنګه د کانونو او ترانسپورټ په سکتور کې پانګونه خورا با ارزښته ده او کولی شي چې ملي بوديجې ته د تمويل غوره سرچينه او د هېواد په اقتصادي ثبات کې رغنده رول ولوبوي.



## ۱۴۰۲ خورشیدی: دستاوردهای امارت اسلامی در سکتور برق

- آغاز کار باقیمانده بند کمال خان؛
- آغاز کار عملی بند بخش آباد؛
- آغاز کار باقیمانده بند شاه و عروس؛
- پروژه تولید برق بادی ۲۰۰ میگاوات در هرات؛
- تکمیل شدن امور انتقال لین ۱۱۰ کیلوولت برق از کجکی به قندهار؛
- همچنان آغاز کار بندهای ذیل:
  - بند برق دوم سروبی کابل
  - بند آغاجان در ارزگان
  - بند برق مناگی در کنر
  - بند سلطان ابراهیم در سرپل
  - بند برق چک
  - بند توری در زابل
- تمدید لین انتقال ۵۰۰ کیلوولت برق از شمال به جنوب کشور؛
- در آیندهٔ نزدیک آغاز کار عملی پروژهٔ کاسا یک هزار؛
- پروژه های تولید برق خورشیدی به شمول کابل در بسیاری از ولایات؛
- احداث و بازسازی سبستیشن های برق در ولایات؛
- و انتقال لین ۲۲۰ کیلوولت برق از ترکمنستان به ولایت هرات.



# د کابل او عشق اباد ترمنځ اقتصادي او سوداګریزو اړیکو ته کتنه

لیکوال: امان‌الله حنیفي



## سریزه

په نړیوال سوداګریز نظام کې د اړیکو پاللو او د هغه د پیاوړتیا اهمیت ته په کتو، هر هېواد کوښښ کوي چې خپلې سوداګریزې اړیکې له ګاونډیو، سیمې او نړۍ هېوادونو سره په داسې ډول پراخې او قوي کړي، چې سوداګریزه تکیه یې د یو هېواد پر ځای په څو هېوادونو او سیمه و اوسي.

ترکمنستان چې په ډېرو مهمو سیمه‌ییزو پروژو کې شریک هېواد دی، له هغه جملې یوه هم د لاجوردو لار ده، چې په دغه هېواد کې تېره شوې او د دې لارې په واسطه افغانستان او بنکېل هېوادونه کولای شي خپل توکي د اروپا بازارونو ته ورسوي. افغانستان د خپل ستراتیژیک موقعیت له امله د ټولو ګاونډیو هېوادونو لپاره پر سوداګریز او ترانزیټ شریک سربېره د پلور یو ښه بازار هم دی. د منځنۍ اسیا هېوادونه او په ځانګړې توګه ترکمنستان د ګازو له پلوه د نړۍ څلورم بډای هېواد بلل کېږي او هڅه کوي چې په پراخه پیمانه ځان ته پېرودونکي ومومي، څو د دې لارې په مرسته جنوبي اسیا مارکېټ ته اسانه او ارزانه لاسرسی ولري چې له امله یې افغانستان نه یوازې دا چې ترانزیټي؛ بلکې نورې اقتصادي ګټې هم ترلاسه کولی شي.

ترکمنستان د افغانستان د وچو او تازه مېوو او همدا راز د زعفرانو او بېلابېلو افغاني محصولاتو لپاره ښه مارکېټ دی. که دواړه هېوادونه له موجودو فرصتونو ښه استفاده وکړي، پرته له شکه چې دې اقتصادي ودې په پرمختګ کې به رغنده رول ولوبوي. موږ به همدې مقاله کې د دواړو هېوادونو د اړیکو سیاسي شالید، سوداګریزو او ترانزیټي چارو او شته فرصتونو ته لنده کتنه وکړو.

## د کابل او عشق اباد ترمنځ سوداګریزې اړیکې

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو سره د دواړو هېوادونو هڅه دا ده چې له راغلو فرصتونو په استفادې سره له یو بل سره ښه اقتصادي او سوداګریز شریکان جوړ شي. همدې موخې ته د رسېدو لپاره څو ځلې د افغانستان اسلامي امارت چارواکو او ترکمنې لوري ګډې ناستې کړې، چې پر مهمو مسایلو، شته فرصتونو او د موجودو ستونزو په له منځه وړلو یې مهمې پرېکړې کړې دي. په دې وروستیو کې دوو تخنیکي – اقتصادي پلاوو په پرله پسې ډول ترکمنستان ته سفرونه درلودل، چې پر مهمو سوداګریزو او ترانزیټي مسایلو هوکړې ته رسېدلي دي. د همدې لیدنو پر مهال ترکمن چارواکو ډاډ ورکړی چې افغانستان ته د ګازو او برېښنا د لېږد تر څنګ به د ربل پټلۍ د پراختیا په برخه کې له افغانستان سره ګډې هڅې لا ګړندۍ کړي.

ترکمنستان د نړۍ په کچه د طبیعي ګازو څلورم تولیدوونکی هېواد دی او جنوبي اسیا ته د ګازو د صادراتو په برخه کې له کلونو راهیسې هڅه کوي چې ویې رسوي. افغانستان؛ د ترکمنستان لپاره د ګازو د صادراتو په برخه کې یو له تر ټولو ښه انتخاب دی، څکه فاصله لنډه او تقاضا زیاته ده. دا چاره نه یوازې د افغانستان په ګټه ده چې په ارزانه بیه او کم وخت کې به خپله اړتیا له دغه هېواد څخه پوره کوي؛ بلکې د ترکمنستان د ګازو صادراتو لپاره هم یو دایمي بازار جوړېږي او له دې لارې کولای شي نورو هېوادونو ته ترانزیټ ترسره کړي.

د افغانستان له لارې نورو هېوادونو ته د ترکمنستان د ګازو ترانزیټ تر ټولو ښه پروژه تاپي ده. د افغانستان، ترکمنستان، پاکستان او هند ترمنځ د ګازو د انتقال یوه تر ټولو مهمه پروژه تاپي ده، چې افغانستان او ترکمنستان پکې اساسي رول لوبوي. د دغه پروژې تطبیق به په افغانستان کې زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابر کړي، د تاپي په مسیر کې ۴ سب ستېشنونه جوړېږي، چې اړوندو سیمو ته به په ارزانه بیه ګاز ورکوي او پر دې سربېره به صنعتي پارکونو ته د ګاز او حرارتي برېښنا د رسولو فرصت هم رامنځته کړي. د تاپي پروژې په تطبیق سره افغانستان هر کال ۴۰۰ میلیونه ډالر حق العبور ترلاسه کوي، چې د اقتصاد ترڅنګ د سیمې هېوادونو د اقتصادي ګټو په شریکولو سره د سیمې او




افغانستان له ثبات سره مرسته کوي.

پر ګازو سربېره ترکمنستان د برېښنا ډېر لوړ ظرفيت لري. اوسمهال افغانستان له ترکمنستان څخه په لسګونو ميګاواټه برېښنا واردوي، چې له دې برېښنا د هستوګنيزو کورونو په روښانه کولو، امارتي ادارو او همدا راز په صنعتي فابريکو کې ګټه اخيستل کېږي . په افغانستان کې د برېښنا ستونزې د هوارې په موخه له ترکمنستان څخه د ۵۰۰ کيلوولټ برېښنا د مزي د پاټې چارو بشپړولو ترون هم د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې ترسره شو . د ۵۰۰ کيلو ولټ پروژه د افغانستان د برېښنا لپاره يوه تر ټولو مهمه او حياتي پروژه ده چې له پلي کېدو سره به د پلازمېنې په ګډون د افغانستان په مرکزي، ختيځو او سوېلي ولايتونو کې د برېښنا ټولې اوسنۍ ستونزې حل شي. د دې پروژې تکميل د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړيکې لاپياوړې او غښتلې کوي، چې ډېره ګټه به يې افغانستان ته رسېږي.

پر ۵۰۰ کيلو ولټ سربېره ټاپ بله هغه پروژه ده چې په بشپړېدو سره يې د افغانستان او ترکمنستان اقتصادي اړيکې لا پياوړې کېږي. ټاپ د ترکمنستان، افغانستان او پاکستان د وارداتي برېښنا ګډه پروژه ده، چې افغانستان ته د انرژۍ‌ترڅنګ د برېښنا د انتقال د حق‌العبور پيسې هم ورکول کېږي او دا پروژه د افغانستان له ثبات سره مرسته کوي.

افغانستان او ترکمنستان د جغرافيوي موقعيتونو له کبله په سيمه ييز او ځانګړې ډول ترانزيټ کې مهم رول لوبولی شي. د سيمه‌ييز ترانزيټ له جملې يوه هم د لاجوردو لار ده، چې افغانستان او ترکمنستان يې مهم غړي دي. د لاجوردو له لارې په بيا وصل سره به د دواړو هېوادونو ترمنځ د اموالو په لېږد رالېږد او بيو کې ډېرې اسانتياوې رامنځته شي.



د دغه لارې په واسطه به دواړه هېوادونه چې اوسمهال ازادو اوبو ته لاسرسی نه لري، وتوانېږي چې د اروپا بازارونو او نړيوالو اوبو ته ځانونه ورسوي. په دې صورت کې به د دواړو هېوادونو سوداګريزې اړيکې له آذربايجان، ګرجستان، ترکيې او اروپا سره پياوړې شي.

په دې وروستيو کې ترکمنستان ته د افغان اقتصادي پلاوي د سفر پر مهال پر لاجوردو لارې سربېره له اندخوی او آقينې څخه د دغه هېواد تر ترکمن‌باشي بندر پورې د لارې جوړېدو په اړه هم هوکړه شوې ده. د دغه لارې په واسطه به افغانستان د روسيې او قزاقستان په ګډون له مختلفو هېوادونو سره وصل شي. د دغه لارې د وصل کېدو په صورت کې به افغانستان د روسيې او قزاقستان بازارونو ته لاسرسی پيدا کړي، چې دا به د يادو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې پر زياتوالي مستقيم تاثير ولري.

اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د کاليو د وارداتو او صادراتو په موخه په هرات کې د تورغونډۍ او په فارياب کې د آقينې بندرونه فعال دي. د کاليو د وارداتو او صادراتو په موخه له يادو بندرونو زياته استفاده کولای شي د سوداګرۍ کچه پراخه او په دغو بندرونو کې بهرنۍ پانګونې ته زمينه برابره کړي.

په دې وروستيو کې ترکمنستان ته د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي د ليدنو په ترڅ کې ترکمن چارواکو ويلي، دوی چمتو دي، چې له ترکمن‌باشي بندر څخه د افغانستان صادراتو او وارداتو ته اجازه ورکړي. له دې بندر څخه په استفادې سره به افغانستان د منځنۍ اسيا بازارونو ته لاسرسی پيدا کړي.

اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه شاوخوا ۴۸۱ ميليونو ډالر ته رسېږي. خو د دواړو هېوادونو ترمنځ موجودو فرصتونو څخه په استفادې سره دغه کچه تر يو ميليارد ډالرو پورې رسېدلی شي. اوسمهال افغانستان له ترکمنستان څخه طبيعي ګاز، برېښنا، وريجې، نباتي غوړي او يوشمېر نور خوراکي او غير خوراکي توکي واردوي او په دې وروستيو کې دواړو لورو لېوالتيا ښودلې چې راکړه ورکړه به پراخوي.

## پايله

واک ته د اسلامي امارت په رسېدو او د اقتصاد محوره بهرني سياست په غوره کولو سره د افغانستان او ترکمنستان د سوداګريزو – ترانزيټي اړيکو د پراخېدو لپاره ښه زمينه برابره شوې. پکار ده چې دواړه هېوادونه له دې فرصت څخه د ټاپي، ټاپ او لاجوردو لارې پروژو د تطبيق ښه استفاده وکړي. د دې پروژو تطبيق نه يوازې د افغانستان او ترکمنستان په ګټه دی، بلکې دا سيمه ييزې پروژې دي او د سيمې په اقتصادي – سياسي او امنيتي وضعيت کې رغنده رول لوبوي، چې تر ډېره ګټه يې بېرته افغانستان او ترکمنستان ته رسېږي. پر دې سربېره د افغانستان او ترکمنستان د اړيکو شاليد ته په کتو اوسمهال د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې زياتولو، په دې برخه کې د ګډو همکاريو او شته ستونزو له منځه وړلو لپاره ښه فرصت برابر شوی. اړتيا ده چې دواړه هېوادونه د سوداګرۍ کچې زياتولو په موخه په ګډه کار وکړي.

